PASHTO

# د موسیقۍ انسامبل (musikkorps)
# ته بنه راغلاست!

ټول انسامبلونه هیله لري چې نوي غړي پیدا کړي. تاسو په دې رساله کې د انسامبلونو په هکله لا زیات مالومات تر لاسه کولای شئ او همدارنګه دا هم مالومولای شئ چې ایا دا به ستاسو، ستاسو د ماشومانو او یا نورو هغو کسانو لپاره یو مناسب فعالیت وي او که نه، چې تاسو یې پېژنئ.



VIDAR ALVIK

NMF
NORGES MUSIKKORPS FORBUND



© KRISTINE MELLEFOSS

په انسامبلونو کې د موسیقي د یوې آلې غږول داسې یو فعالیت دی، چې تاسو کولای شئ له دی سره په ټول ژوند کې بوخت اوسئ. دلته تاسو ښه ملګري پیدا کوئ، چې هره اوونۍ به په مشق او تمرین کې ورسر وینئ. تاسو به په ګډه کنسرتونو او د موسیقۍ نوور لویو پروګرامونو ته چمتووالی نیسئ. تاسو کولای شئ د موسیقۍ په انسامبلونو کې د ګډون له لارې د یو خوندي چاپېریال، زده کړې، برلاسیتوب (تسلط)، ملګرتوب او له یوه ځای سره د تړاو په رامنځته کولو کې مرسته وکړئ.

له ۶۰۰۰۰ څخه زیات کسان د ناروې له ۱۶۰۰ د موسیقۍ له انسامبلونو څخه په یو کې یوه آله غږوي. د هر چا لپاره یو انسامبل شتون لري، پرته له دې چې د یو چا عمر، جنس او د وړتیا کچه په پام کې ونیول شي. د بنوونځیو د موسیقۍ انسامبلونه د هغو زده کوونکو لپاره یو وړاندیز دی، چې عمرونه یې د ۷ او ۱۹ کلونو تر منځ وي، په داسې حال کې چې د لویانو انسامبلونه د ځوانانو او لویانو لپاره دي. یاد انسامبلونه د موسیقۍ بېلابېلې آلې لري او ځینې انسامبلونه د ځانګړو حرکاتو لپاره مخکښې ډلګۍ هم لري.

VIDAR ALVIK





VIDAR ALVIK










# ولې په یو انسامبل کې غړی شم؟

## موسیقي او زده کړه

په انسامبل کې تاسو له نورو سره په ګډه د خانګړو حرکاتو مشق او تمرین کوئ او د موسیقي د یوې آلې غږول زده کوئ. د انسامبلونو غړي په اوونۍ کې یو یا دوله ځلي له یو بل سره ویني تر څو له یو لارښوونکي سره مشق او تمرین وکړي. د دې سربېره د ښوونځیو د انسامبلونو شاګردانو ته د یوه ځلا ښوونکي له لوري زده کړه ورکول کېږي، تر څو د موسیقۍ د آلې په غږولو کې ښه تسلط پیدا کړي. په یوه انسامبل کې ټول غړي مهم دي او هر غړ له خپلې وړتیا سره سمه زده کړه تر لاسه کوي.




## د وزګار وخت لپاره یو خوندي او ښه چاپیریال

ماشومان، ځوانان او لویان په وزګار وخت کې ښو تجروبو او له مانا ډکو فعالیتونو ته اړتیا لري. په انسامبلونو کې تاسو لاندې شیان لاس ته راوړلای شئ:

- د موسیقي یوه آله زده کوئ او له نورو سره په ګډه مشق او تمرین کوئ.
- د هر عمر دوستان پیدا کولای شئ او د خپلې استوګنې دسیمې له ماشومانو او لویانو سره آشنایي پیدا کوئ.
- همکاري او نورو ته پاملرنه زده کوئ.
- په کنسرتونو کې ګډون، د اوونۍ د پای په ورځو (شنبه او یکشنبه) کې سیمینارونه او سفرونه

ټول هغه لویان چې په انسامبلونو کې له ماشومانو سره کار کوي د پولیسو له خوا یو تصدیق سپاري.

# ولې په یو انسامبل کې غړی شم؟


VIDAR ALVIK

## په انسامبلونو کې د لویانو رول (دنده)

انسامبلونه رضاکارانه سازمانونه دي، چې چاري يې د غړيو او د دوی د مېندو او پلرونو له خوا پر مخ بیول کېږي. ټول انسامبلونه یو مشرتابه (رهبري) لري چې د فعالیتونو د تنظیمولو او د چارو د پر مخ بیولو لپاره پیسې پېدا کوي. سر بېره پر دی هر څوک کولای شي د ځینو عملي کارونو د سر ته رسولو له لارې مرسته وکړي. د یوه انسامبل لپاره په خپله خوښه کار (داوطلبانه کار) کولو ته حشر وایي او د استوګنې په چاپېریال کې ورته د قدر په سترګه کتل کېږي. دا له نورو ماشومانو او مېندو او پلرونو سره د آشنا کېدلو لپاره یوه ښه لاره ده.


VIDAR ALVIK


NORDBY SKOLEKORPS



## د موسیقۍ آلې او وسایل

د ښوونځي په انسامبل کې هر ځوک د موسیقۍ آلې او نور وسایل په امانت سره اخستلای شي. همدارنګه هره اوونۍ د موسیقي د استادانو او لارښوونکو له خوا زده کړه هم ورکول کېږي.

انسامبلونه د لارښوونکو، استادانو او موسیقي آلو لپاره پیسو ته اړتیا لري؛ سربېره پر دې چې غړي د پیسو ګټلو لپاره داوطلبانه کار کوي، ټول غړي د غړیتوب وندې (حق العضویت) هم ورکوي. په زیات شمېر ښارواليو (کمونونو) کې له هغو کورنیو سره، چې مرستې ته اړتیا لري، د غړیتوب د وندې د ورکولو لپاره د مالي مرستې لارې چارې شتون لري.



I ♥ KORPS

که چيرې تاسو او يا ستاسو ماشومان په انسامبل کې له شاملېدلو سره لېوالتيا لرئ، کولای شئ د خپلې سيمې له انسامبل، بنوونځي آو يا د ناروې د انسامبلونو له ټولنې (Norges Musikkorps Forbund) سره اړيکه ونيسئ.

لاندې ستاسو د سيمې د انسامبل په اړه مالومات دي:

Fredrikstad Janitsjarskole

email: fredrikstadjanitsjarskole@outlook.com

www.facebook.com/fjskole

NMF | NORGES MUSIKKORPS FORBUND

د ناروې د انسامبلونو ټولنه (Norges Musikkorps Forbund) په هېواد کې تر ټولو لوی د وزګار وخت د فعاليتونو يو سازمان دی. د انسامبلونو غړي کولای شي د ناروې د انسامبلونو د ټولنې له لارې د اوړې په کورسونو او يا د انسامبلونو په سيالیو کې برخه واخلي. د ناروې د انسامبلونو ټولنه، د انسامبلونو د ورځنيو چارو د لاښه والي لپاره کار کوي.

انترنت پاڼه: musikkorps.no
برېښنالیک: post@musikkorps.no